# پر اقتصاد د سیاسي‌ثبات اغېزې


## شیر علی فیضی

**د زم زم پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي استاد او د دعوت پوهنتون د علمي مجلې قلمي همکار**

sheralifaizi4@gmail.com



دعوت
مجله علمی-تحقیقی

سال چهارم،خزان و زمستان

۱۴۰۲هـ ش

شماره ۹



**لنډیز**

د سیاسي او اقتصادي برخې علماء وايي، چې اقتصاد د سیاست توره ده او هر هغه هېواد، چې د آمریکا متحده ایالتونو او چین په څېر غښتلی اقتصاد ولري، نو پویا کورنی او بهرنی سیاست هم لري او په نړیوال نظام حکومت کوي، چې د پویا اقتصادي رشد پیلامه د حکومت له دوامداره سیاسي‌ثبات او مشروعیت څخه سرچینه اخلي. په دې مقاله کې د سیاسي‌ثبات او اقتصادي رشد ترمېنځ اړیکه او پر اقتصادي ودې باندې د سیاسي‌ثبات اغېزې تر څېړنې لاندې نیول شوې، د همدې دعوې د تحقق دپاره لومړی د پاکستان، بنګله-دېش، سوریه، مصر، اوکراین، آمریکا، جاپان، آلمان، هند او چین هېوادونو سیاسي‌ثبات او بې‌ثباتي او د هغوي مثبت او منفي اثرات د اقتصاد پر ودې باندې تر بحث لاندې نیول شوي، په دویم قدم کې د همدغو هېوادونو سیاسي‌ثبات د افغانستان له ۴۵ کلن سیاسي‌ثبات سره پرتله شوی او په پای کې د اسنادو او د هېوادونو له تجربو څخه دا ثابته شوه، چې د افغانستان په ګډون د نړیوال نظام د ټولو هېوادونو دوامداره سیاسي‌ثبات د هېوادونو په اقتصادي ودې باندې مثبت او سیاسي بې‌ثباتي يې د هېوادونو په اقتصادي ودې باندې مستقیما منفي تأثیرات پرېږدي، نو سیاسي‌ثبات او اقتصادي رشد له یو او بل سره مستقیمه اړیکه لري.



**بنسټیزې کلمې:** سیاسي‌ثبات، اقتصادي‌رشد، نیابتي‌جګړې، مشروعیت، رسمیت‌پېژندنه.

تاریخ دریافت: ۱۴۰۲/۸/۳

تاریخ تایید: ۱۴۰۲/۱۲/۲۰

REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22

ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23

**Abstract**

Political and economic analysts emphasize the economy's role as a powerful political weapon. A strong economy, as demonstrated by countries such as the USA and China, supports powerful domestic and foreign policy, successfully changing the international scene. The governing body's political stability and legitimacy are essential for long-term economic success. This article delves further into the link between political stability and economic development, specifically the influence of political stability on economic advancement. To back up this claim, the political stability and instability of numerous nations, including Pakistan, Bangladesh, Syria, Egypt, Ukraine, USA, Japan, Germany, India, and China, are investigated, along with their relative positive and negative effects on economic progress. Furthermore, this article compares these nations' political stability with Afghanistan's 45-year political stability. Drawing on recorded facts and the collective experiences of these countries, it is clear that persistent political stability always promotes positive economic growth, whereas political instability stifles economic advancement.

**Key words**: Political Stability, Economy Growth, Vicarious War, Legitimacies ،Formality Recognize.

**Dawat**
**Academic Journal**

Fourth Year, Issue 9 (Winter 2024)

Received: 2023-10-25
Accepted: 2024-03-10

## سریزه

سیاست او اقتصاد یو د بل متمم، بلکه اقتصاد د سیاست توره ګڼل کیږي او له یو او بل سره مستقیمه اړیکه لري. په افغانستان کې اصلي ستونزه په دې تېرو ۴۵ کلونو کې (په سردار داؤد خان باندې له کودتاه را وروسته) د دوامداره سیاسي‌ثبات او حکومت نه رامېنځته کېدل دي، چې تر ټولو ستر لامل يې په افغانستان کې د پردیو په ځانګړي ډول د غرب او شرق د نیابتي جګړو جریان ده. سیاسي‌ثبات نه يوازې دا چې د يو هېواد د تعلیمي، تحصیلي، اقتصادي، صنعتي، کلتوري، نظامي، تخنیکي او نورو پرمختګونو دپاره د بستر حیثیت لري ،بلکه د هر ډول پرمختګ دپاره اساس تشکیلوي. له دې څېړنې څخه هدف دا ده، ترڅو موجوده حکومت او افغان ولس ته دا په ګوته کړو، چې د يو هېواد د اقتصادي، صنعتي او نورو پرمختګونو دپاره سیاسي‌ثبات څومره اهمیت لري او له سیاسي‌ثبات پرته د افغانستان اقتصادي پرمختګ ناممکن ده، خو د سیاسي‌ثبات د بقاء دپاره د حکومت ملي او نړیوال مشروعیت او د عامه افکارو راضي کول دوه مهم فکتورونه ګڼل کیږي، چې باید وساتل شي. په پای کې حاکم نظام ته دا سپارښتنه کوو، چې کار اهل کار ته وسپاري، د مغزونو له فرار څخه مخنیوی وکړي، عامه افکار راضي او د مشروعیت پر بناء ځان په نړیوالو وپېژني، ترڅو په هېواد کې د تل پاته باثباته سیاسي او پرمختللي اقتصادي نظام څښتن شو.

## د څېړنې میتود

پر اقتصاد د سیاسي‌ثبات اغېزې د څېړنې دپاره له يوې خوا له توصیفي میتود، لکه انګلیسي او فارسي کتابونو، مقالو او د علماؤ له لیکنو څخه استفاده شوې او له بلې خوا له استقرايي میتود، لکه د مصر، سریلانکا، سوریه، شوروي اتحاد، بنلګه‌دېش او پاکستان په څېر هېوادونو پر اقتصاد باندې د سیاسي بې‌ثباتیو منفي اغېزې او د آمریکا متحده ایالتونو، هند، چین، جرمني، جاپان او روسیې په څېر هېوادونو پر اقتصاد باندې د سیاسي ثبات مثبتې اغېزې تر بحث لاندې نیول شوې، په پای کې هغه فکتورونه په ګوته شوي، کوم، چې د سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختګ ترمېنځ مستقیمه اړیکه ثابتوي.

**د څېړنې مخینه**

پر اقتصاد د سیاسي‌ثبات اغېزې تر عنوان لاندې ډېرو علماؤ ګڼ شمېر کتابونه او مقالې لیکلې دي او هر عالم خپل لیدلوری وړاندې کړی، ځینو علماؤ د اقتصادي پرمختګ دپاره امنیت تر ټولو ستر او مهم لامل ګڼلی، ځینې علماء بشري کادرونه او تخصص تر ټولو ستر لامل ګڼي، ځینې علماء د اقتصادي پرمختګ دپاره په هېواد کې د نفتو، ګازو او کانونو په څېر د طبعي زېرمو موجودیت تر ټولو ستر لامل ګڼي او ځینې علماء د آلمان او جاپان په څېر هېوادونو کې د اقتصادي رشد دپاره صنعت تر ټولو ستر لامل ګڼي، خو زه د یو څېړونکي په توګه د نومړو علماؤ د لیدلوریو د ردولو جرئت نکوم بلکه زه وایم، چې د یو هېواد د سرتاسري امنیت، صنعت، بشري کادرونو او تخصص او د طبعي زېرمو د استخراج دپاره سیاسي‌ثبات د ټولو لاملونو په سر کې قرار لري او د علماؤ دغو ټولو لاملونو ته بسترسازي کوي، ځکه چې افغانستان د ملیاردونو ډالرو په ارزښت طبعي زېرمې او بشري کادرونه لري، خو په دې تېرو ۴۵ کلونو کې افغانستان د یو باثباته سیاسي نظام د نشتون له کبله نده توانېدلی، ترڅو له دغو منابعو څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي او خپل ځپلی اقتصاد پرې ورغوي. په دې څېړنه کې د پاکستان، اوکراین، بنګله‌دېش، سریلانکا، سوریه، لیبیا، شوروي اتحاد او مصر په څېر هېوادونو د سیاسي بې‌ثباتی - اقتصادي شاه‌تګ ترمېنځ په اړیکه او د آمریکا متحده ایالتونو، اروپایي ټولنې، هند، چین، G7 او G20 ګروپ غړیو هېوادونو د سیاسي‌ثبات - اقتصادي رشد ترمېنځ په اړیکه باندې بحث شوی او د هغوي سیاسي او اقتصادي تجربې له افغانستان سره پرتله شوې.

**د څېړنې نظریه**

پر اقتصاد د سیاسي ثبات د اغېزو د اثبات دپاره د نړیوالو اړیکو له لبرالیستي نظریې څخه کار اخستل شوی، ځکه چې لبرالستان د یو هېواد د اقتصادي پرمختګ دپاره سیاسي-ثبات او په نړیوال نظام کې په بین الدول همکاریو، آزاد بازار او اقتصاد او متقابل احترام تاکید کوي او له بلې خوا د افغانستان تېر ۴۵ کلن تاریخ ته په کتو، چې د نیابتي جګړو له

کبله هېڅکله د یو باثباته سیاسي نظام څښتن نشو، چې له کبله یې اقتصادي نظام د سمسورتیا پر ځای مخ پر ځوږ روان او لاهم دوام لري.

**د څېړنې موندنې**

په دې څېړنه کې څېړونکی دې پایلې ته رسېدلی، ترڅو چې په افغانستان کې له سردار داؤدخان څخه مخکینیو نظامونو په څېر باثباته سیاسي نظام نه وي رامېنځته شوی او عامه ذهنیت نه وي راضي شوی، نو افغانان او نړیوال دې د افغانستان د اقتصادي دوامداره ودې او پرمختګ هیله نکوي، بلکه اقتصادي حالت او فقر یې له دېنه بدتر کېدلی شي. د یو باثباته سیاسي نظام د پایښت او بقاء دپاره د حکومت ملي او نړیوال مشروعیت یو لازمي شرط ګڼل کیږي، چې پایله یې له یوې خوا د بهرنۍ پانګونې جذب، د مغزونو له فرار مخنیوی او د هېواد اقتصادي او صنعتي پرمختګ ده او له بلې خوا اقتصادي رفاه په دولت باندې د ولس د باور او اعتماد سبب کیږي، چې په دولت باندې د ولس باور د دوامداره سیاسي‌ثبات متضمن ده، نو حاکم نظام باید د ملي او نړیوال مشروعیت او عامه ذهنیت خپلولو په څېر موضوعاتو ته جدي پام وکړي. ښه بېلګه یې د آمریکا متحده ایالتونو سیاسي-ثبات او د هغه مثبت اثرات د آمریکا په صنعت او اقتصادي رشد باندې ده، د آمریکا متحده ایالتونو په ۱۷۷۶م کال کې خپل استقلال له انګریزانو څخه ترلاسه کړ او په ۱۷۷۹م کال کې یې اساسي قانون رامېنځته کړ، خو آمریکایان پدغه ۲۵۰ کلن تاریخ کې وتوانېدل، چې خپل سیاسي‌ثبات او اساسي قانون حفظ کړي، چې اوسمهال د نړۍ په کچه لومړی سیاسی، نظامي، صنعتي او اقتصادي هېواد ګڼل کیږي.

**مناقشه**

د ټولنیزو علومو علماء سیاسي بې‌ثباتي د جنګ، غارت، تاؤتریخوالي، انقلاب، وژلو او بلاخره د دولت د سقوط په مانا تعبیروي، چې متأسفانه افغانستان دغه ډول حالت په دې تېرو ۴۵ کلونو کې دوامداره تجربه کوي او په مقابل کې یې دغه علماء سیاسي او ټولنیز ثبات د یوې سالمې حکمرانۍ دپاره اساسي شرط ګڼي، چې له یوې خوا په ټولنه کې د تعلیم

او تحصيل کچه لوړوي او له بلې خوا د اقتصادي ودې دپاره سالم چاپيريال برابروي. د ټولنيزو علومو علماؤ له نظره هغه لاملونه، چې په اقتصادي ودې باندې مثبت اثرات پرېږدي عبارت دي له: د نظر د څرګندولو آزادي، ځواب ويونکی دولت، سياسي‌ثبات او د تاؤتريخوالي نشتون، کارا حکومت، د نظم کيفيت، حقوقي برابري، د فساد کنترول، سياسي حقونه، مدني آزادی، انساني پرمختګ، د عامه افکارو رضايت او نور، چې دغه ټولې ځانګړنې يو دولت هغه وخت ترلاسه کولی شي، چې د نړيوالو لخوا په رسميت وپېژندل شي او د دولت رسميت پېژندنه په ملي او نړيوال مشروعيت پورې تړلې ده. د GMM سيستم له مخې، چې کومه څېړنه د ۱۹۶۰ ـ ۲۰۰۴م کلونو ترمېنځ په ۱۶۹ هېوادونو کې ترسره شوې، په هغې کې جوته شوې، چې د هېواد سياسي بې‌ثباتي د همغه هېواد د ناخالص توليد په رشد باندې منفي اغېز پرابېښی، نو په پای کې د نومورې څېړنې علماء د اقتصادي رشد دپاره په اقتصادي آزادی او ولسواکی باندې تاکيد کوي او د هېواد د اقتصادي رشد دپاره سياسي-ثبات يو لازمي فکتور ګڼېږ (شاه‌آبادی و بهاری، ۱۳۹۲: ص۵۳)

په نړيوال نظام کې د لومړی نړی، دويمې نړی او درېيمې نړی په نوم هېوادونه شتون لري، چې د علماؤ لخوا دغه ډول وېش د هېوادونو د اقتصادي ودې پر اساس شوی او د اقتصادي ودې منشاء يې د همدې هېوادونو په سياسي‌ثبات پورې تړلی. په لومړی نړی هېوادونو کې ډېری د اروپا، شمالي آمريکا، جاپان، چين او استراليا په څېر هېوادونه قرار لري، چې له اقتصادي پلوه پرمختللي او په سياسي لحاظ باثباته هېوادونه ګڼل کيږي، په نړيوال نظام کې G7, G8 & G20 ګروپونو کې ټول هغه هېوادونه غړيتوب لري، چې د نړی په کچه غښتلي اقتصادي او باثباته سياسي نظامونه لري، بلکه دوي د نړی په اقتصادي نظام باندې حاکم هېوادونه ګڼل کيږي. G7 ګروپ غړي هېوادونه د ټولې نړی نيمايي يعنې له ۲۰۰ تريليون ډېره سرمايه او ۳۲ ـ ۴۶٪ پورې خالص توليد لري او G20 ګروپ غړي هېوادونه د نړی په کچه ۸۰٪ ناخالص توليد او ۷۵٪ سوداګری په واک کې لري او په مقابل کې يې د درېيمې نړی هېوادونه قرار لري، چې د افغانستان په ګډون د درېيمې نړی ډېری

هېوادونه په افريقا او اسيا وچو کې موقعيت لري، چې له اقتصادي پلوه وروسته پاتې او په سياسي لحاظ بې‌ثباته هېوادونه ګڼل کيږي.

د افغانستان په ګاونډ کې پروت پاکستان هېواد، چې په ۱۹۴۷م کال کې يې خپله آزادي ترلاسه کړې، خو په دې ۷۶ کلونو کې دا هېواد نده توانېدلی، ترڅو يو باثباته سياسي او ولسواک نظام ولري، بلکه هر ځل يې ملکي حکومت د پوځ د کودتاؤ ښکار شوی، چې پايله يې د پاکستان په اقتصادي نظام او قراردادونو باندې د پوځ انحصار او ترڅنګ يې د سياستمدارانو او پوځ لخوا پراخ مالي فساد، ناسالم مديريت او د ملياردونو بهرنيو پورونو له کبله د پاکستان اقتصادي نظام سخت ځپلی او ولس يې له فقر او بې کارۍ سره مخ کړی، چې دغې بې کارۍ، فقر او سياسي بې‌ثباتۍ په دې هېواد کې تروريزم، ناامنۍ او بلاخره اقتصادي ديوالي کېدو ته زمينه برابره کړې. په سويل آسيا کې پروت هېواد سريلانکا له نسبي سياسي‌ثبات او له چين جمهوريت څخه د ملياردونو ډالرو پورونو اخستلو سره سره ونه توانېد، چې د هېواد او ولس په اقتصادي وضعيت کې بهبود راولي، نو په ۲۰۲۲م کال کې د مالي فساد له کبله د سريلانکا شاهي کورنۍ مجبورا نيپال ته په تېښته بريالۍ او هېواد يې له اقتصادي ديوالي سره مخ کړ.

په دويم نړيوال جنګ کې آمريکا متحده ايالتونه او شوروي اتحاد د جګړې فاتحين اعلان شول، په مقابل کې يې جرمني او جاپان په جګړه کې مغلوب او د آمريکا او شوروي اتحاد تر سختو فشارونو لاندې راغلی. سياسي‌ثبات او اقتصاد يې وځپل شو، ولس يې له فقر او مهاجرت سره مخ شول، خو بيا هم جرمني او جاپان دواړه وتوانېدل، چې خپل سياسي-ثبات حفظ کړي او د صنعت پر بنسټ خپل اقتصاد په پښو ودروي، چې اوسمهال جاپان او جرمني د G7 او G20 ګروپ غړي هېوادونه دي او پرمختللی صنعتي اقتصاد لري. په مقابل کې يې شوروي اتحاد د آمريکا په مشرۍ له ناټو سره په ښکر شو او له غرب سره په سړه جګړه کې ښکېل شو، د آمريکا متحده ايالتونو په مشرۍ اروپا خپل سياسي او اقتصادي ثبات وساته او د شوروي اتحاد په مشرۍ يې کمونيزم د افغانستان په ګډون په ټوله

نړۍ کې په ګونډو کړ، بلاخره په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد سیاسي او اقتصادي ثبات وپاشل شو او په ګڼو جمهوریتونو وویشل شو. د روسیې فدراسیون په ۲۰۰۰م کال کې د ویلادمیر پوتین په مشرۍ وتوانېد، چې په نړیوال نظام کې د شوروي اتحاد استازیتوب وکړي او خپل سیاسي‌ثبات بېرته احیاء کړي، چې اوسمهال د همدې باثباته سیاسي نظام او اقتصادي رشد له کبله د G8 او G20 ګروپونو غړی ده، خو اوسمهال د ۲۰۲۲م کال په فبروري کې په اوکراین جمهوریت باندې د نظامي یرغل له کبله د روسیې فدراسیون غړیتوب د G8 او G20 ګروپونو په ګډون په ډېریو سازمانونو کې ځنډېدلی ده.

د سیاسي ثبات اغېزې د بنګله دېش پر اقتصاد باندې (The Role of Political Stability on Economic Performance: The Case of Bangladesh) تر عنوان لاندې مقاله کې د ۱۹۸۴ - ۲۰۰۹م کلونو ترمېنځ د بنګله‌دېش سیاسي‌ثبات او پر لنډمهاله او اوږدمهاله اقتصادي ودې یې اغېزې تر څېړنې لاندې نیول شوې، بلاخره ددې مقالې موندنې ښيي، چې د بنګله‌دېش هېواد سیاسي‌ثبات په لنډمهاله کې پر اقتصادي ودې باندې مثبت اغېز پرابښی، خو په اوږدمهاله کې یې د بنګله‌دېش اقتصاد هېڅ وده نده کړې او ولس یې له فقر او بې‌کارۍ څخه کړېدلي (Ahmad & Pulok, 2013: P61). نو د ورلډ بینک د راپور له مخې د افغانستان اقتصاد په لنډمهاله توګه رشد کړی، عواید یې ډېر شوي، فساد له مېنځه تللی، افغانی خپل ارزښت د ډالر او نورو اسعارو پر وړاندې ساتلی، خو زما په اند او د بنګله دېش تجربې ته په کتو په اوږدمهاله کې د افغانستان اقتصادي وده رشد نشي کولی، ځکه چې د رسمیت نه پېژندنه، د حکومت ملي او نړیوال نه مشروعیت، فقر، بې‌کاري، بې باوري او د مغزونو فرار په څېر د سیاسي بې‌ثباتی مهمې ځانګړنې لاهم لاینحل پاتې دي.

ولسواکي - سیاسي ثبات او د پرمختللیو هېوادونو رشد: تیوري او مدارک (Democracy, Political stability, and Developing Country Growth: Theory and Evidence) مقالې تر نامه لاندې څېړونکی (Ran Mali Abeyasinghe) د ولسواکي - سیاسي‌ثبات او اقتصادي رشد ترمېنځ د اړیکې په هکله لیکي، چې له سیاسي-

ثبات پرته دموکراسي په اقتصادي رشد باندې منفي تأثيرات پرېږدي او د هېواد د اقتصادي تزلزل سبب کيږي، چې ښه بېلګه يې په افغانستان کې د تېر ۲۰ کلن جمهوريت سياسي بې-ثباته کاپي پيسټ دموکراسي وه، چې له بهرنيو مليياردونو ډالرو مرستو سره سره يې د افغانانو په بې کارۍ او فقر کې کمی رامېنځته نشو کړی، خو له سياسي‌ثبات سره مل ولسواکي په اوږدمهاله کې د هېواد په اقتصادي رشد باندې خپل مثبت تأثيرات پرېږدي او په هېواد کې کاري فرصتونه رامېنځته کوي.

پر اقتصادي رشد باندې د سياسي ثبات مثبتې او منفي اغېزې: د څېړونکو اندونه (The Impacts of Political Stability on Economic Growth: Evidence from Panel data Analysis) تر نامه لاندې څېړنيزه مقاله کې، کوم چې په اوکراين، رومانيا، اندونيزيا، تايلينډ، ايکواډور او برازيل هېوادونو کې ترسره شوې ليکي، چې د سياسي‌ثبات له پلوه دغه هېوادونو لږه نمره ترلاسه کړې، خو بيا هم د دغو هېوادونو د نسبي سياسي‌ثبات او اقتصادي رشد ترمېنځ مستقيمه اړيکه شتون لري او د دغو هېوادونو اقتصادي رشد مخ پر ودې روان ده. اقتصادي رشد ته پر لاسرسي باندې د سياسي ثبات اغېزې (The Role of Political Stability in Achieving Economic Development) تر نامه مقاله کې څېړونکی (Mohamed Masry) د مصر هېواد د اقتصادي رشد د کموالي په اړه کوم چې د انقلاب په پايله کې مصر ورسره مخ شو ليکي، چې له عرب پسرلني انقلاب څخه مخکې د مصر هېواد اقتصادي رشد ښه پر مخ روان وو، خو له انقلاب څخه وروسته په مصر کې سياسي بې‌ثباتي او په حکومت باندې د ولس بې باوري د مصر اقتصادي رشد ورو او د ناخالص توليد کچه يې تر ۱٫۳۹٪ پورې راکښته کړه، ځکه چې ولسي باور د اقتصادي رشد په څېر له سياسي-ثبات سره مستقيمه اړيکه لري (Masry, 2015: P134). د (Ausrine Milasaite) په نوم څېړونکی پخپل تيزس کې د سياسي‌ثبات، تورم، بې‌کاري او سرانه کورني ناخالص توليد ترمېنځ د رابطې په اړه ليکي، چې هر يو يې پخپل وار له يو او بل سره نږدې اړيکه لري او يو پر بل باندې خپل تأثيرات پرېږدي، يعنې که چېرې په هېواد کې دوامداره سياسي‌ثبات

واوسي، نو د تورم او بې کارۍ کچه راټیټېږي او په مقابل کې یې د کورني ناخالص تولید کچه لوړېږي، چې په پای کې یې د هېواد اقتصادي وده چټکه کېږي او که چېرې په هېواد کې سیاسيثبات له تزلزل سره مخ وي، نو په هېواد کې د تورم، فقر او بې کارۍ کچه لوړېږي او د کورني ناخالص تولید کچه راټیټېږي، چې په پای کې یې د هېواد اقتصادي وده ورو کېږي.

څېړونکی Prof. Dr. Ali ACAR پخپله څېړنیزه مقاله د ریاستي نظامونو پر اقتصادي رشد باندې د سیاسي ثبات اغېزې (THE EFFECTS OF POLITICAL STABILITY ON ECONOMIC GROWTH OF THE PRESIDENTAL GOVERNMENT SYSTEM) کې لیکي، چې د ترکیې هېواد په صدارتي رژیم کې د اقتصادي ودې له تزلزل سره مخ وو او د ریاستي رژیم په خپلولو سره د ترکیې هېواد وتوانېد، چې د ۲۰۱۸م کال د اقتصادي رشد په رده بندۍ کې لوړې نمرې ترلاسه کړي او دغه هېواد د اقتصادي رشد څښتن کړي (Acar, 2019: P18). خو زما په اند د ریاستي رژیم په څېر یو مشخص سیاسي رژیم نشي کولی، چې د هېوادونو په اقتصادي رشد باندې مثبت او منفي تأثیرات پرېږدي، بلکه په هېواد کې آزاد بازار، ښه حکومتولي، ملي او نړیوال مشروعیت، بشري کادرونو او صنعت موجودیت، طبعي زېرمې، د هېوادونو ترمېنځ همکاري، متقابل احترام، د هېوادونو ترمېنځ د ګټو عادلانه وېش، ځواب ویونکی دولت، په دولت باندې د ولس باور، خدماتو ته د ولس یو ډول لاسرسی، سرتاسري امنیت، تعلیم او تحصیل، د عامه افکارو رضایت، د لاریونونو نشتون او نور، چې دوامداره سیاسيثبات دغو ټولو ځانګړنو ته زمینهسازي کوي او هېواد د اقتصادي ودې څښتن کوي.

بنګلهدېشی څېړونکی محمد عبیدالله د (Centre for Advanced Social Research, Dhaka) په نوم څېړنیز مرکز کې د، ایا د سیاسي بې ثباتۍ او اقتصادي پرمختګ ترمېنځ اړیکه شتون لري؟ (Is there any relationship between political instability and economic growth?) تر نامه لاندې مقاله کې لیکي چې: سیاسي بېثباتي د دولت د سقوط په مانا ده او د دولت سقوط کېدی شي د سیاسي احزابو د خپل مېنځي شدید اختلافاتو او رقابتونو

له کبله رامېنځته شي. محمد وايي چې د پاکستان، بنګله‌دېش او سريلانکا په څېر هېوادونو کې د لوړو مالياتو له کبله دوامداره لاريونونو د همدې هېوادونو اقتصادي وده ورو کړې او د داخلي توليداتو، صادراتو او وارداتو کچه يې را ټيټه کړې، بلاخره دغه ډول اقتصادي تزلزل، د همدغو هېوادونو سياسي بې‌ثباتيو او د دولتونو سقوط ته لاره هواره کړې، چې ښې بېلګې يې د عمران خان په مشرۍ د پاکستان د سياسي نظام او د راجاپاسکا په مشرۍ د سريلانکا اقتصادي ديوالي او سياسي نظام سقوط وو، نو که چېرې د افغانستان په ګډون د نړيوال نظام هر هېواد پايداره سياسي‌ثبات او د سياسي‌ثبات ځانګړنې (د نظر د څرګندولو آزادي، ځواب ويونکی دولت، د تاؤتريخوالي نشتون، کارا حکومت، د نظم کيفيت، حقوقي برابري، د فساد کنترول، سياسي حقونه، مدني آزادۍ، انساني پرمختګ، د عامه ذهنيت رضايت، کارا کاري پلانونه، کار اهل کار ته سپارل، متقابل احترام، او نور) ولري، نو د آمريکا او چين په څېر د افغانستان اقتصادي وده او رشد هم حتمي او ممکن ده.

حاکم نظام د عوايدو د راټولولو او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت په برخه کې ډېر پرمختګونه لرلي او لاهم دوام لري، زما په اند کېدی شي د عوايدو ډېروالی په لنډمهاله کې د هېواد پر اقتصادي ودې باندې خپل مثبت تأثيرات پرېږدي او د افغانانو په فقر کې کموالی راولي، خو په دومره لوړه کچه (۱۵ - ۴۵٪) د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ کښته او پورته کېدل د ولس او سوداګرو په زيان ده، ځکه چې زمونږ ټول واردات او صادرات په ډالرو باندې صورت مومي او پدغه ډول پولي تزلزل کې سوداګر په آسانه د توکو خريد او فروخت ته غاړه نشي اېښودی، ځکه چې سوداګر په بازار، اقتصادي‌ثبات او د افغانۍ - ډالر په قېمت باندې مطمئن نه وي، پداسې حال کې چې په نوره نړۍ کې کورني او بهرني اسعار د اعشارې په ډول کښته او پورته کيږي او په بازار باندې يې دومره اثر نه پرېوزي. له بلې خوا افغانستان په دې تېرو ۴۵ کلونو سياسي بې‌ثباتيو کې همېش د جنګي اقتصاد (د مخدره موادو د قاچاق پيسې، د انسان تېښتونې پيسې او د نيابتي جګړو د دوام دپاره بهرنۍ مرستې) ښکار شوی،

چې دغه پیسې په مؤقت ډول د ځینو مغرضو اشخاصو جیبونو ته ولوېدې او د افغانستان اقتصاد او ولس یې د ودې پر ځای له شاه‌تګ او فقر سره مخ کړل.

د سیاسي‌ثبات د دوام دپاره یو مهم فکتور، چې باید حاکم نظام ورته جدي پام وکړي، هغه د عامه ذهنیت خپلول دي، په دې تېرو ۴۵ کلونو کې تجربو ثابته کړه، چې کله هم عامه ذهنیت د حکومت او دولت خلاف قرار نیولی، نو حکومت او دولت یې پر وړاندې د ټیکاؤ او دوام جرئت نده کړی، بلکه له سقوط سره مخ شوی، چې ښې بېلګې یې د خلقیانو او پرچمیانو، د مجاهدینو، لومړنی اسلامي امارت او تېر جمهوري نظامونه دي، تېر جمهوري نظام له دومره بهرني نظامي او اقتصادي حمایت سره سره له سقوط سره مخ شو، ځکه چې په تېر ۲۰ کلن جمهوري نظام کې هر دایمي او مؤقت لوړپوړي او ټیټ‌پوړي کارمند په دې باور دنده او پراخ فساد ترسره کاؤ، چې یوه نه او یوه ورځ نظام ړنګېدونکی ده، نو باید خپل ځانونه ماړه او له هېواده خپلې پښې سپکې کړو. که چېرې تاریخ ته مراجعه وشي، نو درته جوته به شي، چې د انګریزانو، شورویانو او ناټو راتګ او پر افغانستان یې یرغل دپاره په کور دننه زمینه‌سازي شوې، بلکه مستقیما او غیرمستقیما راغوښتل شوي، نو حاکم نظام ته پکار ده، چې د سیاسي‌ثبات د بقاء او اقتصادي ودې دپاره په عامه ذهنیت باندې کار وکړي او د افغانستان ټول قومونه او نژادونه راخپل کړي، ځکه چې افغانان نور د بل ناوړه انقلاب او اوښتون حوصله نلري او نه هم د بدیل غوښتونکي دي.

تجربو ثابته کړې، چې خپل مینځي جګړې او بهرني یرغلونه د هېوادونو سیاسي‌ثبات او اقتصادي وده له مېنځه وړي او بشري کادرونه یې نورو هېوادونه ته په مهاجرت مجبوروي او هلته د بېګانه هېوادونو په نوم او ګټه نوښتونه او کشفیات ترسره کوي، چې ژوندۍ بېلګې یې د ګران هېواد افغانستان، اوکراین، عراق، لیبیا، سوریه، د افریقا ډېری هېوادونه، فسلطین او یمن هېوادونه دي، په یاد هېوادونو کې لیبیا، سوریه او عراق ښه سوکاله او د ولس ژوند یې متوسط وو، خو د نیابتي جګړو او سیاسي بې‌ثباتیو ښکار شول او د ختیځې اروپا هېواد اوکراین په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد له پاشل کېدو راوروسته د نسبي سیاسي‌ثبات او

اقتصاد ځښتن وو، خو د آمریکا متحده ایالتونو په مشرۍ د ناټو او غرب او د شرق په مشرۍ د اوسنۍ روسیه ترمنځ د جیوپولټیک او جیوستراتژیک رقابت له کبله نوموړی هېواد د ویلادمیر زلنسکي په رهبرۍ د اوږدمهاله جنګ او اور لمبو ته ولوېد او کم‌تجربه زلنسکي خپل هېواد د غرب د ګټو قرباني او بشري کادرونه یې د غربي اروپا پر لور مهاجر شول (دهشیار، ۱۳۹۳: ص۱۸۷).

د ټولنیزو علومو ټول علماء په دې متفق دي، چې د نړیوال نظام په ډېرو هېوادونو کې سیاسي‌ثبات پر اقتصادي ودې باندې مستقیم اغېز لري او له یو او بل سره مستقیمه اړیکه لري یعنې که چېرې د یو هېواد سیاسي ثبات غښتلی کېږي او دوام پیدا کوي، نو هرو مرو اقتصادي وده یې هم غښتلې کېږي او برعکس کمزورې کېږي، خو په نړیوال نظام کې د ایران، کیوبا، ونزویلا، شمالي کوریا، بیلاروس او د مرکزي آسیا په څېر ځینې هېوادونه هم شته، چې د نسبي سیاسي‌ثبات سره سره یې اقتصاد رشد نده کړی، بلکه اقتصاد یې له رکود سره مخ ده، چې د اقتصادي رکود تر ټولو ستر لامل یې په همدې هېوادونو کې د شمشېر په زور حکومت کول او د غرب لخوا اقتصادي بندیزونه دي.

د پاکستان په ګاونډ کې پروت هېواد هند، چې له پاکستان سره یې هم مهاله خپله خپلواکي ترلاسه کړې او په دې تېرو ۷۶ کلونو کې یې هېڅ پوځي کودتاه نده تجربه کړې، بلکه هر ملکي حکومت هر ځل خپل واک د ټاکنو له لارې منتخب حکومت ته سپارلی او د هند سیاسي‌ثبات یې ساتلی، نو ځکه اوس مهال هند د خپل صنعت، زراعت، بشري کادرونو او تکنالوژۍ پر مټ یو غښتلی اقتصادي او پرمختللی هېواد ګڼل کېږي او په راتلونکو څو کلونو کې به د نړۍ په کچه درېیم اقتصادي هېواد ونوموول شي. د هند هېواد د همدې باثباته سیاسي، غښتلي اقتصادي او صنعتي نظام پر مټ وتوانېد، چې خپله سپوږمکۍ په بریالتوب سره د سپوږمۍ مدار ته وخېژوي او په دې برخه کې د نړۍ په کچه له آمریکا، روسیه او چین څخه وروسته څلورم مقام خپل کړي. د هند په ګاونډ کې پروت هېواد چین جمهوریت د ۱۹۴۹م کال انقلاب څخه راپدې خوا وتوانېد، چې خپل سیاسي‌ثبات او ملي یووالی وساتي او

دغه سیاسي ثبات او ملي یووالي د چین جمهوریت د نړیوال نظام په اقتصادي او صنعتي برخه کې د آمریکا متحده ایالتونو سیال جوړ کړ او تمه ده، چې د چین جمهورویت په نږدې راتلونکي کې په صنعتي او اقتصادي برخه کې د آمریکا ځای ناستی شي، ځکه چې اوسمهال د چین اقتصاد او صنعت په ټوله نړۍ باندې حاکم او په نړیوال نظام کې داسې هېواد شتون نلري، چې هلته د چین جمهوریت توکي او تولید ونه کارول شي.

له یوې خوا افغانستان د خپل جغرافیایي او ستراتژیک موقعیت له کبله، چې سویلي آسیا له مرکزي آسیا او له هغې لارې یې له اروپاسره نښلوي، کولی شي په اقتصادي، سوداګریزه او ترانزیتي برخه کې ځان ګټور ثابت کړي او له بلې خوا افغانستان د طبیعي زیرمو له پلوه د نړۍ په کچه یو بډایه هیواد ګڼل کیږي او په خپله خاوره، غرونو، رغونو، دښتو او میرو کې ډول ډول طبعي زېرمې لري، چې د هغو په استخراج سره افغانستان د اقتصاد له پلوه په خپلو پښو دریدلی شي، خو بیا هم د بهرنیو لاسوهنو، نیابتي جګړو او د یو شمیر کورنیو مغرضو کړیو د کړنو له امله افغانستان تر دې دمه د یو باثباته سیاسي نظام څښتن شوی نده، نو ځکه یې د شته زیرمو څخه کومه د پام وړ ګټه هم نده پورته کړې. د ۲۰۱۲م کال د جون د میاشتې په ۱۳مه نیټه د امریکا د نیویارک ټایمیز ورځپاڼې په افغانستان کې د شته کانونو او طبیعي زیرمو په هکله د امریکا د دفاع وزارت او د ځمکپیژندونکیو د یوې ډلې په حواله یو راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې د یو تریلیون امریکایي ډالرو په ارزښت معادن موجود دي، چې لا تر اوسه پورې سپړل شوي او را ایستل شوي ندي (عندلیب، ۱۳۹۷).

ددې راپور تر مخې افغانستان د اوسپنې او مسو په تولید او صادراتو کې د نړۍ پر مخ تر ټولو ستر هیواد ګرځیدلی شي، همدا راز هغه ماده چې په دې راپور کې ورته زیاته اشاره شوې لیتیوم (Lithium) دي، د راپور له مخې افغانستان د بولیویا د هیواد څخه زیات لیتیوم لري کوم، چې په ټوله نړۍ کې د دې مادې تر ټولو زیات تولیدوونکی هیواد دی. په افغانستان کې شویو څیړنو وښودله، چې دغه هیواد په ملیاردونو متر مکعب لیتیوم لري، نو له همدې امله پنټګان پخپل

یادداښت کې کاږلي دي، چې افغانستان د لیتیومو د تولید په برخه کې داسې یو هیواد جوړیدلی شي، لکه څرنګه چې سعودي عربستان د تیلو په برخه کې دی. همدا راز افغانستان د هغه معادنونو چې لا د ځمکې په خېټه کې دي او را ایستل شوي ندي درې سوه او دیرش ډوله لري، چې ځیرلو او را ایستلو ته یې زیات وخت ته اړتیا ده. په اقتصادي لحاظ افغانستان د نړۍ په کچه د وروسته پاتې هېوادونو په ډله کې قرار لري ،خو د سرشاره طبعي زېرمو او ستراتژیک موقعیت له کبله د نړۍ په کچه یو غني هېواد ده او شته طبعي زېرمې د افغانستان د اقتصاد په توسعه او رغېدا کې ستر او رغنده رول لوبولی شي (غفوری، ۱۳۹۸).

**پایله**

د مقالې څېړنیزو توکو ته په کتو جوته شوه، چې د یو هېواد سیاسيثبات د همغه هېواد پر اقتصادي ودې باندې مستقیما مثبت اغېز پرېباسي، ځکه چې سیاسيثبات کاري فرصتونه رامېنځته کوي او کاري فرصتونه د ولس او عامه ذهنیت د باور سبب کیږي او د عامه ذهنیت رضایت بېرته د سیاسي نظام د ثبات سبب کیږي او سیاسيثبات اقتصادي وده او رشد رامېنځته کوي. برعکس سیاسي بېثباتي د همغه هېواد پر اقتصادي ودې باندې مستقیما منفي اغېز پرېباسي، ځکه چې په هېواد کې اقتصادي شاتګ د بې کارۍ او فقر کچه لوړوي او فقر تروریزم او نیابتي جګړو ته لاره هواروي، بلاخره تروریزم او نیابتي جګړې د نظام، سیاسي ثبات او اقتصاد د سقوط سبب کیږي، نو د نړیوال نظام پرمختللو هېوادونو، د پرمختګ په حال کې هېوادونو او وروسته پاتې هېوادونو تجربو ته په کتو، افغانستان له خپل مهم جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت، سرشاره طبعي زېرمو، سرتاسري امنیت، ترانزیت او بشري کادرونو څخه هغه وخت سمه ګټه پورته کولی شي، چې یو باثباته سیاسي نظام ولري او د باثباته سیاسي نظام د دوامدام دپاره د لویو قدرتونو نیابتي جګړو ته نه ووایي. د نړیوالو لخوا د افغانستان رسمیت پېژندنه او د رسمیت پېژندنې دپاره په ملي او نړیواله کچه د حکومت مشروعیت یو لازمي او حتمي عنصر ګڼل کیږي، ترڅو افغانستان په اقتصادي لحاظ پر ځان بسیا او د نړیوالو له مرستو څخه بې نیازه شي.

**سرچيني**

– خانباشی، محمد (۱۳۹۰)، ((تأثیر عوامل اقتصادی بر سطح اعتماد سیاسی))، **فصلنامه راهبرد**، سال بیستم، شماره۶۱، زمستان۱۳۹۰، ص‌ص ۲۷۷-۳۱۵، (تاریخ دریافت: ۲۲/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دست‌رس در:

https://www.rahbord.csr.ir

– دهشیار، حسین (۱۳۹۳)، ((ریشه‌های رویارویی آمریکا و روسیه در بحران اورکراین))، **فصلنامه علمی پژوهشی سیاست جهان**، دوره سوم، شماره دوم، تابستان ۱۳۹۳، ص‌ص ۱۶۱ - ۱۹۰، (تاریخ دریافت: ۲۰/۰۸/۲۰۲۲)، قابل دسترس در:

https://www.interpolitics.guilan.ac.ir

– شاه‌آبادی، ابوالفضل، بهاری، زهرا (۱۳۹۲)، ((تأثیر ثبات سیاسی و آزادی اقتصادی بر رشد اقتصادی کشورهای منتخب توسعه‌یافته و در حال توسعه))، **فصلنامه علمی‌پژوهشی، پژوهش‌های رشد و توسعه اقتصادی**، سال چهارم، شماره۱۶، پاییز۱۳۹۳، ص‌ص ۵۳-۷۲، (تاریخ دریافت: ۲۱/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دسترس در:

https://www.ensani.ir

– طیب‌نیا، علی، نیکونسبتی، علی (۱۳۹۲)، ((نهادها و رشد اقتصادی))، **فصلنامه علمی-پژوهشی**، سال هجدهم، شماره۱، بهار۱۳۹۲، ص‌ص ۱۰۹-۱۳۲، (تاریخ دریافت: ۲۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دست‌رس در:

https://www.jpbud.ir

– عندلیب، محمداسماعیل (۱۳۹۷)، ((د افغانستان طبعي زيرمې او نړيوال لوبماران))، (تاریخ دریافت: ۱۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دسترس در:

https://www.nunn.asia

– غفوری، آمین الله (۱۳۹۸)، «منابع طبیعی؛ الفبای رشد وتوسعه اقتصادی افغانستان»، (تاریخ دریافت: ۲۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دسترس در:

https://ago.gov.af/sites/default/files

–فرهادی‌فر، وحید، رنجبر، ایرج (۱۳۹۹)، ((نسبت سنجی توسعه انسانی و ثبات سیاسی در ایران بعد از انقلاب))، **فصلنامه پژوهشی‌های سیاسی و بین‌المللی**، دوره۱۳، شماره۵۳، زمستان۱۴۰۱، ص‌ص ۱۴۶-۱۷۶، (تاریخ دریافت: ۲۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دسترس در:

https://www.jpir.takestn.iau.ir

–کمیجانی، اکبر، گرجی، ابراهیم، اقبالی، علیرضا (۱۳۹۲)، ((اقتصاد سیاسی رشد اقتصادی))، **فصلنامه پژوهش‌ها و سیاست‌های اقتصادی**، سال۲۱، شماره۶۵، بهار۱۳۹۲، ص‌ص ۶۱-۸۲، (تاریخ دریافت: ۲۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دست‌رس در:

https://www.qjerp.ir

–یداله، دادگر، اسکندری، حمید (۱۴۰۰)، ((تأثیر هزینه‌های رفاهی دولت بر ثبات سیاسی-اجتماعی ایران و کشورهای منتخب))، **نشریه سیاست گذاری اقتصادی**، سال سیزدهم، شماره۲۶، پاییز و زمستان۱۴۰۰، ص‌ص ۱۶۳-۱۹۰، (تاریخ دریافت: ۲۷/۰۸/۲۰۲۳)، قابل دست‌رس در:

https://www.ep.yazd.ac.ir

Acar, Ali (2019), ((*THE EFFECTS OF POLITICAL STABILITY ON ECONOMIC GROWTH OF THE PRESIDENTAL GOVERNMENT SYSTEM*)), INTERNATIONAL JOURNAL OF ECONOMICS AND POLITICS SCIENCES ACADEMIC RESEARCHES) V: 3- N: 9- 2019, Pages 18-31, dated: 2023/08/20, Available at: https://www.dergipark.org.tr

- Ahmed, Moin Uddin, Pulok, Mohammad Habibullah (2013), ((*The Role of Political Stability on Economic Performance*: *The Case of Bangladesh*)), Journal of Economic Cooperation and Development, 34, 3 (2013), Pages 61-100, dated: 2023/08/27, Available at: https://www.jecd.sesric.org

- Aisen, Ari, Jose Veiga, Francisco (2011), ((*How Does Political Instability Affect Economic Growth?*)), 2010 International Monetary Fund (IMF), Middle East and Central Asia Department, dated: 2023/08/20, Available at: https://www.imf.org

- Alesina, Alberto, Ozler, Sule, Roubini, Nouriel (1392), ((*Political Instability and Economic Growth*)), NATIONAL BUREAU OF ECONOMIC RESEARCH, 1050 Massachusetts Avenue, Cambridge, MA 02138, September 1992, , dated: 2023/08/25, Available at: https://www.dash.harvard.edu

- Ausrine, Milasaite (2022), ((*Political Stability and Economic Development, Analyzing correlations between political stability and inflation, GDP per capita growth, unemployment*)), BACHELOR THESIS WITHIN: Economics, NUMBER OF CREDITS: 15 ECTS, PROGRAMME OF STUDY: International Economics, dated: 2023/08/20, Available at: https://www.diva-portal.org

- Dehghanzadeh Shahabad, Rasool (2014), ((*The Impacts of Political Stability on Economic Growth: Evidence from Panel data Analysis*)), Approval of the Institute of Graduate Studies and Research, Eastern Mediterranean University, October 2014, Gazimagusa, North Cyprus, dated: 2023/08/28, Available at: https://www.i-rep.emu.edu.tr

- Masry, Mohamed (2015), ((*The Role of Political Stability in Achieving Economic Development*)), Journal of Economics and Sustainable Development, ISSN 2222-1700 (Paper) ISSN 2222-2855

(Online), Vol.6, No.16, 2015, Pages 134-153, dated: 2023/08/27, Available at: https://www.core.ac.uk

- Ranmali, Abeyasinghe (2004), ((*Democracy, Political Stability, and Developing Country Growth*: *Theory and Evidence*)), Economics Research Honors, Spring 2004 Department of Economics, Illinois Wesleyan University Committee Chair, Dr. M. Seeborg, dated: 2023/08/28, Available at: https://www.digitalcommons.iwu.edu